# د مردان تاریخ: یوه تحقیقي جائزه

# History of Mardan: A Research Review

Ruhma Naz *

**Abstract**

This study explores the historical development of Mardan, one of the most significant regions of Khyber Pakhtunkhwa. This research investigates Mardan's geographical, political, and cultural importance in the historical evolution of the Pashtun tribes. This study analyzes the role of the Yousafzai settlement, tribal organization, and regional power dynamics that shaped the district's historical identity. Particular attention is given to the interaction between local tribal traditions and broader political developments in the northwestern frontier. Using a qualitative and historical research approach, the paper evaluates different interpretations of Pashtun history and its relevance to understanding Mardan's past. This study concludes that Mardan occupied a central position in the socio-political history of the Yousafzai Pashtuns and emerged as an influential center of cultural and historical significance in the region.

**Keywords***:* Mardan,Pathans, Yousafzai, Pashtun History, Khyber Pakhtunkhwa, Tribal Society, Historical Development

.

## سریزه (Introductory Overview)

مردان د خیبر پختونخوا نه صرف د قدامت په لحاظ سره یو ډېر زوړ او تاریخی ښهر حسابیږي بلکي په کلتوري او ثقافتي اړه هم ډېر لوړ اهمیت لري۔

د مردان تاریخ د پښتنو د عمومي تاریخ، په ځانګړې توګه د یوسفزو د قبیلې د هجرت، استوګني او د واکمنۍ له داستان سره نه شلېدونکی تړون لري .مردان چې د سوات د غونډیو په لمن کښې پروت دی، د" سمه "یا د هوارې زمکې د قلب په توګه پاتې شوی دی .

په دې ښهر د لرغونی ګندهارا کلتور، د یوسفزو راتګ، د مغلو او درانیانو سره جګړې، د روښاني غورځنګ اغېزې، د سیکانو تېری او د شریک هنوستان په دور کښې وخت په وخت د انګریز او پښتنو

* Ph.d scholor Pashto Academy university of Peshawar

تـر مینځـه شـوي معرکـې او مبـارزې پـه بشـپړ ډول د دي ښـهر اهمیـت نور هم سپوا کوي -

مـردان د خپلـي ابـادئ پـه لحـاظ هـم یوتـاریخي اهمیـت لري،سـر اولاف کیـرو پـه خپـل کتـاب " دي پټـانز" کښـې پښـتانهٔ پـه دوو برخـو د غـرهٔ پښـتانه (Hill Tribes) لکـه وزیـر، مسـعود، اپریـدي او داسـې نـور او د سـیند او هـوارې زمکـې پښـتانه (Plain Tribes) پـه کومـو کښـې چـې یوسـفزي، خلیـل، مومنـد او د پېښـور د غـاړې خلقـو کښـې تقسـیم ښودلي دي -

مـردان د همـدغې دویمـې ډلـې یعنـي د یوسـفزو د هـوارې زمکـې مرکـز دی .کیـرو پـه خپـل کتـاب کښـې پـه ډېـر مهـارت سـره د غبـرګ سـیمو( سـما او سـوات تـرمنځ) جغرافیـایي او کلتـوري تـړون ښـودلی دی .هغـه لیکـي چـې پښـتانه یـوازې د تـورو او جنګونـو مېړنـي نـه دي، بلکـې هغـوی د یـو داسـې جمهـوري او ډیموکریټـک نظـام) پښـتونولي او جرګـه (مالکـان دي چـې پـه سـیمه کښـې یـې د هغـوی پېژنـدګلو ژونـدۍ سـاتلې ده .د هغـوئ تـر نظـر، د مـردان زمکـه ) دیوسـفزو سـمه (د پښـتون کلتـور، کلاسـیکې پښـتو شـاعري او د پښـتنو د ملوکتیـا او سیاسـي بېـدارۍ مرکز دی.

**مردان په لرغونی تاریخ کښې د ګندهارا تمدن مرکز:**

مـردان د نـړۍ د ر ټولـو لرغـوني او ځلانـده تمـدن، یعنـې د ګنـدهارا (Gandhara)د تمـدن زړهٔ حسـابیږي . د اسـلام نـه مخکښـې هـم د پېښـور او مـردان درې او میـداني علاقـو د یونـاني، سـاکا، کوشـان او کیداریانو د کلتورونو د یوځاي کېدو ځای وو.

محترمه بشری خاتون په خپل کتاب د صوابۍ تاریخ کښې لیکې:

"ګنـدهاره د سنسـکرت ژبـې لفـظ دے چـې مطلـب یـې دے د ورېمـو هیـواد.....ننـۍ خیبـر پختونخـوا د هغـه شـمیر ښـیرازه سـیمي پخـوانے نـوم دے،کومـه چـې

د پېښور، مردان، صوابۍ، چارسدي، سوات، باجوړ
او کوهاټ په سيمو ودان دے ـ دا سيمه په مودو
مودو راسي د تهذيب و تمدن زانگو ده ـ "[1]
سر اولاف کېرو هم دا سيمه د گندهاره تهذيب مرکز
ښودلې ده:

"Gandhara, the Peshawar Valley, was the *point d'appui* of the White Huns or Ephthalites in their invasion of North India. There are literally thousands of Gujars in the villages of Swat, Dir, and Mardan today; one of the largest of all villages in the Yusufzai Samah of Mardan is named Gujar Garhi." [2]

**تخت بهائي او شهباز گړهي:**

مردان د گندهارا تهذيب د اثارو تخت بهائي او شهباز گړهۍ د پاره مشهور دے ـ ۱۸۵۰ ء کښې د قايمي شوي چهاوڼۍ سره دي ښهر نوره هم ځلا موندلي ده ـ مردان په ۱۹۸۸ء کښې د مشهور روحاني پيشوا مردان شاه پۀ نوم په اول باقاعده ضلع جوړه شوي ده ـ

د مردان په شمال کښې موقعيت لرونکی تخت بهائي د بودايي راهبانو يو داسې مرکز دی چې د لومړۍ پېړۍ نه تر اوومې پېړۍ پورې ودان وۀ .دا ځای په غره کښې په داسې حکمت سره جوړ شوی چې هم د عبادت لپاره پر امنه و ۀ او هم د تېرېدونکو پوځونو او قافلو له نظره لرې وۀ.بلکه راتلونکې او داخيليدونکې لښکری به د ډېر لرې نه ښکاريدلې.دا شان د هغوئ په وخت تابيا کول به ممکن وو-

همدغه شان، د شاهباز گړهي د اشوکا باچا (Ashoka) کتبې چې په خروشتي رسم الخط کښې ليکل شوې دي، دا ثابتوي چې دا سيمه د هند په نيمه وچه کښې د مذهب او فلسفې هم لوی مرکز پاتې شوی دی.

د تاريخ پاڼې دا خبره هم څرگندوي چې کله د اسلام په اوايلو کښې او وروسته بيا په پنځلسمه پېړۍ کښې پښتنو قبيلو دا زمکه خپله کړه، نو هغوی د دې سيمې په کلتور خپل داسې رنگ ورکړو چې د

هغې زوړ تاریخ پکښې جذب شو .د تخت بهایۍ کنډوالې نن هم د مردان د جغرافیایي او کلتوري عظمت ګواهي ورکو-

**د یوسفزو هجرت او په مردان ( سمه )کښې مېشته کېدل :**

د تاریخ په پاڼو کښې د یوسفزو د هجرت داستان د تاریخ یو له تر ټولو زړه پورې بابونو څخه دی .دا د پنځلسمې پېړۍ د وروستیو خبره ده کله چې د یوسفزو قبیله له کابل څخه د الغ بېګ ( د مرزا شاه رخ زوی) د ظلمونو له امله راوکوچېده. دې باره کښې سر اولاف کېرو لیکي چې:

"At any rate it was to Ulugh Beg II that the Yusufzais and other Khakhay clans paid their addresses in Kabul…Ulugh Beg II was ruler of the city… the Yusufzais were largely instrumental in raising him to the throne, and supporting him in his sovereignty over a difficult country. On first accession Ulugh Beg treated these tribes with marked distinction; he was indeed dependent on their assistance for the support of his throne, but … they insulted Ulugh Beg's authority, plundered his villages, and even filled his capital with tumult and confusion'. Ulugh Beg, whose power was now strengthened by the accession of many Chaghatai Turks who flocked to his standard, resolved to rid himself of these turbulent allies…" [3]

**د کابل نه پېښور او بیا مردان ته سفر:**

یوسفزي لومړی ننګرهار او بیا پېښور ته راغلل .په هغه وخت کښې په پېښور او د هغې په شاوخوا د اغوان) د شلماني او دله زاک ( قبیلې مېشتې وې .یوسفزو له هغوی څخه زمکه وغوښته .د وخت په تېرېدو سره، د دله زاکو او یوسفزو ترمنځ جګړې وشوې.او د کاټلنګ او مردان او د نورو غونډیو په لمن کښې یوسفزو دله زاکو ته ماتې ورکړه او هغوی یې د اباسین (Indus River) پورې غاړې ته واړول . په دې توګه د مردان دا لویه او شنه دښته، چې د" سمه "په نوم یادېږي، د یوسفزو په لاس کښې راغله.

**د شیخ ملي بابا د زمکو وېش:**

کله چې یوسفزي په مردان او سوات کښې په بشپړه توګه مېشته شول، نو د زمکو د وېش او د قبیلو ترمنځ د انصاف د قایم ساتلو

لپاره یو داسې نظام ته اړتیا وه چې شخړې پایې ته ورسوي .په دې وخت کښې د یوسفزو ستر مذهبي او سیاسي مشر شیخ ملي بابا د وېش یو ځانګړی نظام جوړ کړ و چې په تاریخ کښې د" شیخ ملي وېش "په نوم یادېږي.

سر اولاف کېرو په خپل کتاب "دي پټانز" کښې د شیخ ملي د دې نظام ستاینه کوي چې:

> " The date of Shaikh Mali's distribution is not accurately stated; we only know it took place after the battle of Katlang and apparently during Ahmad's lifetime… The great stretch of territory, with all its complications of mountain and valley, and Shaikh Mali's close definition of inter-tribal and intersectional boundaries, which persists today, suggest that the work must have occupied at least five and perhaps as much as ten years. The whole of the present Peshawar and Mardan districts north of the Kabul River, part of Bajaur, Panjkora, Swat, Buner, and the adjacent Indus Valley, were surveyed - a circle of territory about a hundred miles in diameter, including a tangle of mountains and valleys at elevations between 1 ,000 and 10,000 feet. The survey and distribution was a remarkable achievement, and its decisions have on the whole stood the test of time. It bears all the marks of careful thought and organization, down to the twigs in every tribal tree; and the strength of tribal tradition, together with all the evidence of the impress of a master-mind, leave no doubt that the event is an historical process which took place about the time claimed for it. " [4]

د مردان تاریخ د دې وېش له امله د یوې باثباته ټولنې بنه غوره کړه، او د یوسفزو د مشرانو ( ملکانو او خانانو) واکمني قایمه شوه.

**د مغلو سره ټکر او د روښاني غورځنګ اغېزې :**

د معقولي شوا هدو له مخې، مغل واکدارانو د کابل او د هلي ترمنځ د لارې د خوندي کولو لپاره ټل د پښتنو د زیر کولو هڅه کوله، خو پښتنو( په ځانګړې توګه یوسفزو) هېڅکله د هغوی واکمني په اسانۍ ونه منله .د مردان زمکه د مغلو خلاف د مزاحمت مرکز وۀ.

**د بایزید انصاري( پیر روښان)غورځنګ:**

په شپاړسمه پېړۍ کښې د بایزید روښان مذهبي او سیاسي غورځنګ د پښتنو په بېدارۍ کښې ستر رول ولوبولو .د پیر روښان زوی، جلال الدین روښاني، د مغلو خلاف مېړنۍ جګړې وکړې .د مردان او

صوابۍ په دښتو کښې د روښانيانو او يوسفزو د مشترک مقاومت له امله مغل پوځونه وارخطا شول .محترم اياز ايسپز ے د بايزيد انصاري او د هغوئ د تحريک په حقله ليکي:

"حضرت بايزيد انصاري ( پير روښان ) او روښاني تحريک په ښه خدائ پښتنو له د مغولو خلاف د غچ اخيستلو لپاره يو ښه وسيله او غوره لاره ورکړه او تر ډېرو مودې پښتون قام دغه تحريک په ډېرو ناسازو حالاتو کې هم ژوندی اوساتلو او تر اخيري ورځې يې مغولو ته خپل پښتانۀ سرونه ټيټ نۀ کړل-"[5]

**د اکبر باچا او د شاهي پوځ ماتې:**

مشهورمغل بادشاه اکبر په خپله دوره کښې، د يوسفزو د زير کولو لپاره يو لوی پوځ د راجا بيربل او زين خان کوکه تر مشرۍ لاندې ولېږلو .بيربل د مردان له لارې سوات ته د ننوتلو هڅه وکړه .دغه وخت هم دوئ سوات او بونير نه د ننوتلو له پاره ملاکنډ او برمول ( کهويې برمو ل مردان ) درې کارولې وې-

شيخ نويد اسلم د مردان تاريخ په حواله خپل تحقيقي جائزه کښې ليکي:

"مردان کا علاقہ بیرونی محلہ آوروں کے ہاتھوں کئی مرتبہ شکست و ریخت سے گزرا اور محمود غزنوی تااحمد شاہ ابدالی تمام مسلمان سلاطین ہندستان پر لشکر کشی کے دوران ان علاقوں سے گزرے۔"[6]

په ۱۵۸۶ز کال کښې د يوسفزو غازيانو د مغل پوځ په کراکر دره (Karakar Pass) کښې ګيرکړو او د بيربل په ګډون يې په زرګونو مغل سرتېري ووژل .د اکبر پاچا لپاره دا په تاريخ کښې تر ټولو لويه پوځي او جاني ماته وه . سراولاف کيرو ليکي:

"This is the route which the Mughal army sought to take in 1586 and, less capably commanded, met with disaster." [7]

**د پښتنو پهٔ اتحاد کښې د مردان وال خان ګجو خان بابا کردار:**

په همدې دور کښې ملک ګجو خان د یوسفزو داسې یو مشر و چې د مردان، صوابۍ او سوات ټولې قبیلې یې تر یو بېرغ لاندې کړې .هغه ته په تاریخ کښې د" خانِ ګجو "لقب ورکړل شوی دی .د هغه د واکمنۍ ټول جوړ جاړی د مردان په سیمه کښې وۀ او دلته د هغوئ مزار نن هم د پښتنو د یووالي د علامت په توګه ولاړ دی.

**د درانیانو دور او په مردان کښې د خانانو عروج:**

کله چې په ۱۷۴۷ز کال کښې احمد شاه ابدالي د غلجیو او ابدالیانو په ملاتړ د درانۍ حکومت بنیاد کېښود، نو یوسفزو د هغه ملاتړ وکړ .مګر د پښتنو د آزاد طبعیت له امله، د مردان خانانو د قندهار او کابل مستقل مالیه او واکمني په بشپړه توګه نه منله.او احمد شاه بابا د پښتنو د مزاج نه واقف و، ځکه نو هغه د یوسفزو سره د دښمنۍ پر ځای د دوستۍ لاره خپله کړه .د هندوستان په غزاګانو ( لکه د پاني پت دریمه جګړه - ۱۷۶۱ز )کښې د مردان او صوابۍ په زرګونو یوسفزي زلمو برخه اخیستې وه .د دې په بدل کښې د درانیانو لخوا د مردان د سیمې مشرانو لکه د هوتي، متیار او توروس خانانو ته د" خان "او" نواب "لقبونه او جاګیرونه ورکړل شول، چې له امله یې په مردان کښې د خانخېلۍ نظام نورهم وده او مونده.

**د سیکانو تېرې او د شهیدانو مېړانه:**

د نولسمې پېړۍ په پیل کښې د درانۍ واکمنۍ د زوال سره سم، د پنجاب رنجیت سنګ د پېښور او د هغې د شاوخوا سیمو رخ وکړ .دا د مردان د تاریخ یو تر ټولو تریخ او د مېړانې څخه ډک پړاو دی.

**د نوښار جګړه ( ۱۸۲۳ء) :**

د سیکانو پوځ د هرې سنګ نلوه او رنجیت سنګ‌تر مشرۍ لاندې د پېښور نه وروسته مردان او میداني (سمه) سیمو ته د ننوتلو کوشش وکړو -په ۱۸۲۳ز کال کښې د سیکهانو او پښتنو تر مینځه یوه خونړۍ جګړه وشوه.

په دې جګړه کښې د کابل د واکمنانو د کمزورۍ او بې وفايۍ باوجود، د سیمې پښتنو او د مذهبي مشرانو( لکه غازي سید اکبر شاه) په مشرۍ کښې د سیکهانو په داسې نوي او منظم پوځ( کوم سره چې د فرانس مرسته وه ) باندې بریدونه وکړل .په دې جګړه کښې د پښتنو د پیاوړي مشر صمد خان یوسفزي او د مجاهدینو لخوا بې کچې قربانۍ ورکړل شوې .که څه هم سیکهانو دا جګړه د خپلو عصري وسلو په زور وګټله، خو پښتنو هغوی ته سخت مالي او ځاني زیان ورسولو.او د هغوئ په زړونو یې د خپل هیبت نېزې ښخې کړې۔

**د سید احمد شهید او شاه اسماعیل شهید تحریک (۱۸۲۶ - ۱۸۳۱) :**

د سیکهانو د ظلمونو خلاف د هندوستان نه راغلي د سید احمد شهید بریلوي او شاه اسماعیل شهید د مجاهدینو تحریک ته د مردان خلقو د زړۀ داخلاصه هرکلی اوئیلو .د مردان د پنجتار سیمه چې د فتح خان یوسفزي جاګیرو، د مجاهدینو اصلي مرکز وګرځېد .د مردان غازیانو د سیکهانو خلاف په ګڼ شمېر جګړو کښې د سید احمد شهید ملګرتیا وکړه او د هغوی د شهادت(بالاکوټ ۱۸۳۱ز )پورې یې خپله ویني اوبهیولې.

**د انګریز حکومت او په مردان کښې د ازادۍ غورځنګونه:**

په ۱۸۴۹ز کال کښې، کله چې انګرېزانو د پنجاب د لاندې کولو وروسته د پېښور او مردان سیمې ونیولې، نو هغوی د یو داسې اولس سره مخ شول چې د هیڅ یو چا غلامي یې نه منله .

اولاف کېرو، چې خپله هم د دې نظام يوه برخه پاتې شوی وۀ، په ډېر جامع انداز سره د انګرېز حکومت او د پښتنو د اړيکو په حقله ليکلي دي چې:

" This very freedom, enjoyed over the centuries by the heart-lands of the Pathan, denies to the enquirer all the usual raw material of history. " [8]

**د مردان ګائيډزکور او چاونۍ:**

انګرېزانو د مردان د سيمې د جغرافيايي اهميت او د پښتنو د جنګي مهارتونو د کنټرول لپاره په ۱۸۷۹ ء کال کښې په مردان کښې يو لوی پوځي مرکز (Cantt) جوړ کړ او هلته يې د" ګائيډز کور"په نوم ځانګړی پوځي ځواک مېشت کړ .دا ځواک د سرحد د ساتنې او د غريزو قبيلو (لکه د بونېر او سوات ) د ځپلو لپاره پکار راوړل کېدو.

دې باره کښې همايون هما ليکي:

"د بغدادي سره خوا ته دغه چاونۍ په کال ۱۸۷۰ ء د ګايډ رسالې د پاره د بغداد والو په جائيداد کښې جوړه شوي وه. په ملاکنډ چې غزا جوړه شوه او عمران خان د پرنګيانو په ضد راپاڅېدلونو د دغې مخ نيوي د پاره پرنګيانو مردان کښې ګائيډ په نامه يوه رساله ودروله -"[9]

**د ۱۸۵۷ ز کال د ازادۍ جګړه او د هوتي مېړانه:**

کله چې په ۱۸۵۷ز کال کښې په هندوستان کښې د انګرېزانو خلاف پاڅون وشو، نو د مردان په چاونۍ کښې مېشتو پنځۀ پنځوستمې نېټيو انفنټري (55th Native Infantry) هندي سرتېرو هم بغاوت وکړ .انګرېزانو هغوی په بې رحمۍ سره مړه کړل .په دې دور کښې د مردان د سيمې عامو پښتنو او د خانانو ځينو ډلو د انګرېزانو خلاف پټ او ښکاره فعاليتونه جاري وساتل.

**د امبيلې غزا ( ۱۸۶۳ ء)**

د مردان په تاریخ کښې د امبېلې غزايو مهم پړاو دی .مجاهدين چې د مردان د غونډيو په شا او خوا (بونېر او د ملندرو په دره ) کښې مېشته وو، په انګرېزانو باندې به يې بريدونه کول .انګرېزانو د هغوی د ختمولو لپاره يو لوی پوځ ولېږو .د مردان د بېلابېلو کلو ( لکه لوند خوړ، کاټلنګ، بابوزئ) پښتنو په دې غزا کښې برخه واخيسته او د انګرېزانو پوځ ته يې داسې سختې ماتې ورکړې چې انګرېزان د څو مياشتو لپاره په درو کښې ايسار پاتې شول.

**د شلمې پېړۍ سياسي بېداري اود خدايي خدمتګار تحريک اغېزې:**

د پښتنو د شلمې پېړۍ د سياسي مبارزې ذکر چې کوو نو ارومرو به د خان عبدالغفار خان(باچا خان) لخوا د" خدايي خدمتګار"تحريک ذکر را پيل کيږي، کوم چې د عدمِ تشدد پۀ فلسفه او بنياد د انګرېزانو خلاف لکه ديوال ولاړ وۀ.

مردان لکه چې جغرافيايي لحاظ سره د چا رسدي سره جوخت دے ـ د دي ښهر د جغرافيايي ارزښت په حواله ډاکټر عاجز علي کهوسو په خپله تحقيقي مقاله کښې ليکې:

"د مردان شهر د جغرافيايي پلوه پۀ ۳۴ درجي شمالي عرض باد او ۸۰ درجي ختيځ طول باد کښې واقع دے. دا ښار د سمندر د کچي سخه ۹۲۸ لټه لوړ دے او ټول مساحت يې خوا وسله ۱۶۳۲ مربع کلوميټره ( ۱۲۱۱ ميل ) دے. د مردان ختيځ ته د صوابۍ ضلع،او اباسين بهيږي،لويديځ ته يې چارسده ده،شمال ته يې ملاکنډ او سوات غريئزه لړئ ده او په سويل ( جنوب ) کښې له نوښهار سره لګيدلے دے ـ " [10]

نوله دغه امله د خدايي خدمتګار تحريک يو له تر ټولو پياوړو مرکزونو څخه و .د مردان مشهوره سياسي غړي او مشران لکه قاضي

عطاء الله خان( د باچا خان نږدې ملگری او د تعلیم پوهه وزیر)، میر محمد خان ( بگو خان)، د مردان د بېلابېلو کلو ( لکه اتمانزي، هوتي، تورډېر، گوجرگړهي،ساولډهیر،کاټلنگ ) عام خلق او ځوانان ټولو ښه په نره دغه تحریک خپل کړي وو او نور په وړاندي یې بوتلے وو۔

په ۱۹۳۰ز کال کښې کله چې په پېښور کښې د قصې خوانۍ بازار غمیزه وشوه :

"چې پرنگیانو په تش لاس احتجاج کونکو باندي
ډزي پیل کړې او دقیصه خوانۍ بازار ټولې لارې
کوڅې یې د مړو نه ډکي کړې۔ " [11]

نو په مردان کښې هم انگرېزانو سخت ظلمونه شروع کړل . د مردان په غله منډۍ او د ښار په بېلابېلو برخو کښې په پر امنه مظاهرو کوونکو ډزې وشوې او گڼ شمېر خلق،ټپیان، شهیدان او زنداني شول۔ مگر د مردان پښتنو د عدمِ تشدد لاره پرېښنوده او په سیمه کښې یې د انگرېزانو سیاسي او اداري مقاصدو د حصول په لار کښې خنډان شول.

**د مردان کلتوري، قلمي او ادبي تاریخ:**

مردان نه صرف د جنگونو او سیاسي مبارزو یو اهم ډگر پاتې شوی، بلکې د پښتو د کلتور، ادب او شاعرۍ هم زانگو ده .او د فیض الوهاب فیض، ډاکټرهمایون هما، ډاکټر سلمه شاهین، محب الله شوق،خان بهادر حسرت، محمد اقبال اقبال،شمس اقمر اندیش او اکمل لیوني په شان نور ډېر شاعران ادیبانو یې زیږولي دي.

د مردان زمکه د کلاسیکو کیسو ( لکه د یوسف خان او شېربانو، آدم خان او درخانۍ اوتوردل اوشهئ ) په شان د رومانوي قیصو د تخلیق او مېشتېدو ځای دی .د مردان د غره په لمن کښې د دغه

روماني قیصو د کردارونو مزارونه نن هم شته، کوم چې د پښتنو او د دي سیمي دفولکلور یوه ارزښتناکه پنګه ده.

**د حجرې او جرګي نظام:**

په مردان کښې د حجرې او جرګي کلتور په خپل پوره اب و تاب سره شتون لري .د شیخ ملي د وېش او د خانانو د دور راسې، حجره د پښتنو د جرګې، کلتور، موسیقۍ ( رباب ،چیلم او منګي) او د مسافرو د مېلمستیا مرکز دی .همدا حقیقت سر اولاف کېرو هم مني:

> "But there are other advocates on whom the debaters in the hujras of Peshawar and Mardan still rely, interpreters of Pathan lore though not themselves Pathans." [12]

---

**پایله(Conclusion)**

د تاریخِ مردان د مطالعې څخه دا خبره په ډاګه کېږي چې مردان یوازې د خیبر پښتونخوا د یو داسې ښار نوم نه دی چې شنه پټي، زرخیزه زمکه،دنګ لوړ غرونه او یو زبردست نهري نظام لري، بلکې د غیرت او حریت دبلها داستانونو په ژبه د ددې ځائ د وګړو قامي،سیاسي او مذهبي بیداری را په ډاګه کوي - دا د پښتنو د کلتوري، سیاسي ،مذهبي او تاریخي بیداري یو داسې مثال قایموي چې په هره دوده کښې یې ځان ښکاره ساتلے دے.

د ګندهارا د بودهایي تمدن څخه واخلې د یوسفزو تر هجرت پورې، او بیا د مغلو، درانیانو، سیکهانو او انګریزانو استعمار په وړاندې د مېړنیو جګړو او د خدایي خدمتګار د پر امنه مبارزې پورې، د مردان اولس تل د خپلې آزادۍ او پښتونولي ساتنه کړې ده .د شیخ ملي،ګجو خان او تر باچاخان غوندي د ننګیالو او بریالو اتلانو د

سياسي بصيرت لـه لارې يې د تـاريخ پـه پـاڼو كښې خپل نـوم پرقـولے دے.
دا څېړنـه دا خبره پـه ډاګـه كـوي چې د مـردان تـاريخ پـه اصـل كښـې د ټـول پښـتون اولـس د ننـګ، نـاموس، پـوهې او د آزادۍ د مسلسـل جدوجهد يو ژوندى داستان دے.

---

## حوالي(References)


1. ډاكټـر بشـرا خـاتون،د صـوابۍ تاريخ،عـامر پرنـټ اينـډ پبلشـر پېښور ،2015ء،ص28
2. ســــر اولاف كېـــرو، دي پټـــانز، اكســــفورډ يونيورســــټي پــــريس كراچي، 1958ء ،ص86
3. همدغه كتاب، ص174-173
4. همدغه كتاب، ص 184-183
5. ايـاز ايسـپزے،خپل اتـلان اوپېژنئ،كتـاب كـورخپر ندويـه ټولنه،پېښور،اګست 2025 م زيږديز،ص22
6. شيخ نويد اسلم،مردان کی تاریخی اہمیت، روزنامہ دنیا، 30اگست,2023 صفحہ اول
7. ســــر اولاف كېـــرو، دي پټـــانز، اكســــفورډ يونيورســــټي پــــريس كراچي، 1958ء ، ص54
8. همدغه كتاب، ص xxiii
9. ډاكټـر همـايون همـا،د ژونـد دغـه قيصـه ده،الشـمس پرنـټ پو اينټ مردان، كال۲۰۱۹،ص۶۶
10. ډاكټـر عـاجز علـي كهوسـو،تاريخ الا سـلامى لمديريـة مـردان فـى شـبة القـارة الهنديـة، الخـادم ريســرچ جرنـل آف اسـلامک كلچـر اينـډ سوېلائزيشـن، واليـوم ۱۱۱، نمبـر ۲، اپريـل -جـون ۲۰۲۲، ص ۱- ۱۹

11. اياز ايسفزے ،خپل اتلان او پيژنئ ،کتاب کور خپرندويه پيښور، اګست 2025 ء،ص342
12. سـر اولاف کيـرو، دي پټـانز، اکسـفوړډ يونيورسـټي پـريس کراچي، 1958ء ،ص6

## References

1. Dr. Bushra Khatun, *Da Swabi Tareekh*, Aamir Print & Publisher, Peshawar, 2015, p. 28.
2. Sir Olaf Caroe, *The Pathans*, Oxford University Press, Karachi, 1958, p. 86.
3. Ibid., pp. 173–174.
4. Ibid., pp. 183–184.
5. Ayaz Isapzai, *Khpal Athalan O Peyanai*, Kithab Kor Khparandoya Tolana, Peshawar, August 2025, p. 22.
6. Sheikh Naveed Aslam, *Mardan Ki Tareekhi Ahmiyat*, Roznama Dunya, 30 August 2023, Safha-e-Awwal.
7. Sir Olaf Caroe, *The Pathans*, Oxford University Press, Karachi, 1958, p. 54.
8. Ibid., p. xxiii.
9. Dr. Humayun Huma, *Da Jwand Dagha Qissa Da*, Al-Shams Print Point, Mardan, 2019, p. 66.
10. Dr. Ajiz Ali Khoso, *Tarikh al-Islami li Mudiriyat Mardan fi Shibh al-Qarah al-Hindiyyah*, *Al-Khadim Research Journal of Islamic Culture and Civilization*, Vol. III, No. 2, April–June 2022, pp. 1–19.
11. Ayaz Isapzai, *Khpal Athalan O Peyanai*, Kithab Kor Khparandoya, Peshawar, August 2025, p. 342.
12. Sir Olaf Caroe, *The Pathans*, Oxford University Press, Karachi, 1958, p. 6.